په افغانستان
کې د کاناډا ماموریت
www.afghanistan.gc.ca






# بشري مرستې

## د اړو خلکو سره مرسته

د نورو لاملونو تر څنګ دوامدارغربت او جګړې د افغانستان د دولت او خلکو دا وړتیا تر ډېره بریده کمه کړې ترڅو وکړای شي د وړاندوینې وړ حوادثو او طبیعي ناورینو نه مخنیوی وکړي، د هغو ناوړې اغیزې کمې کړي او یا په وړاندې یې غبرګون وښیي. دا واقعیت په دې مانا ده چې شاوخوا ۸ ملیونه افغانان به په نږدې راتلونکې کې خوراکي مرستو ته اړتیا ولري. ښځې او ماشومان په خاصه توګه د بحران په مقابل کې زیان منونکي دي، نو په دې لحاظ د کاناډا هېواد د بشري مرستو په پروګرامونو کې هغو ته ځانګړې پاملرنه شوې ده.



د کاناډا په مرسته، ډېرو اړو افغانانو ته خوراکي توکي ورکول کیږي.

با سپاس از بنیاد رسانه و فرهنگی هینداره / عبیدالله ©

### کاناډا څه کوي

کاناډا خپلې مرستې په لاندې برخو کې متمرکزې کوي: د بشر په لاس د جوړو شوو پیښو او طبیعی ناورین نه وروسته د خلکو د ژوند ژغورل، د رنځونو ختمول، او د انسانی وقار ساتل، همداراز د افغانانو د چمتووالي زیاتول تر څو وکړای شي د داسې حالتونو په وړاندی ښه غبرګون وښیي. مونږ به خپل شراکت په افغانستان کې د مهمو بشري سازمانونو سره هم غښتلی کړو لکه د افغانستان د سره صلیب ټولنه چې د بشري ژغورنې مرستې ترسره کوي او اړینو ټولنو ته مرستې رسوي.

د دغو موخو د ملاتړ لپاره به کاناډا د مهمو بشري ادارو سره مالي مرسته وکړي چې په هغو کې د ملګرو ملتونو ادارې لکه د نړیوال خوراکي پروګرام او یونیسف، او د نړیوالې سرې میاشتې او سره صلیب ټولنې راځي، تر څو زیان منونکو خلکو ته چې د جګړې او طبیعی پیښو له کبله زیانمن شوي دي په وخت سره مرستې ورسېږي.

Government of Canada
Gouvernement du Canada
Canada